# ډاکټر خان صاحب

امجد شهزاد

د مۍ نهمه نېټه د ډاکټر خان صاحب د شهادت ورځ ده. پښتون اداره په دغه حواله دا خصوصي ليکنه خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي.

"ډاکټر خان صاحب ووژلے شو، د قاتل خنجر زمونږ نه د آزادۍ د جنګ يو بل تکړه سپاهي وتروړلو، خو په دې خنجر يو عمر خوړلے سړے نۀ دے وهلے شوے، دا د پاکستان په سينه ګوزار دے، په دې خنجر زمونږ د جمهوريت قتل شوے دے، د نېکۍ، سادګۍ او خلوص قتل شوے دے، د وروروليۍ او انسانيت قتل شوے دے".

د ډاکټر خان صاحب په شهادت دا د سېد سبط حسن هغه الفاظ دي چې د هفت روزه "لېل و نهار" لاهور د اتوار ۱۱ مۍ ۱۹۵۸ د ګڼې په اداريه کښې ئې ليکلي دي.

ډاکټر خان صاحب ۱۸۸۳ کښې د چارسدې په اتمانزو کښې د خان بهرام خان په کور کښې پېدا شو، ځنې دانشورانو د دۀ نوم عبدالجبار ليکلے دے چې صحيح نۀ دے، د دۀ اصل نوم هم خان صاحب ؤ، په دې حقله د دۀ نمسے اجمل خان وائي:

"چې د هغۀ اصل نوم خان صاحب ؤ، په غلطۍ سره په ځينو برطانوي دستاويزاتو او د ځنو



ليکوالو په ليکونو کښې عبدالجبار ليکلے شوے دے. داسې نومونه زمونږ په خاندان کښې د وړاندې نه هم موجود وو، لکه زما د يو مشر نيکۀ نوم شاه صاحب ؤ، ما په ذاتي توګه د ډاکټر خان صاحب د زوي سعدالله خان او عبدالغفار خان نه دا خبره تصديق کړې ده".

د ډاکټر خان صاحب خوريے پروفېسر جهانزېب نياز هم دا خبره په وثوق سره کوي چې د هغۀ خپل نوم خان صاحب ؤ او په ثبوت کښې د هغۀ پاسپورټ هم وړاندې کوي.



هغه خپل وروم بنے تعلیم د ایډورډز مېموریل هائي سکول پېښور نه وکړو او ۱۹۰۵ کښې ئې مېټرک پاس کړو، بیا د بمبۍ په ګرېنډ مېډیکل کالج کښې داخل شو. د مېډیکل ډګري ایم. آر. سي ایس ئې د سېنټ تهامسن هسپتال او مېډیکل سکول لندن نه وکړه.

د ډاکټر خان صاحب وړومبے وادۀ د چارسدې د امباډېر کلي کښې شوے ؤ او د کوروداني نوم ئې خورشیده ؤ چې د دې نه ئې درې زامن او یوه لُور وه، دوېم وادۀ ئې د لندن د استوګنې په دوران کښې د یوې سکاټش ښځې "مېري" سره کړے ؤ. د پروفېسر نصیر الدین طالب د وېنا مطابق د ډاکټر خان صاحب دغې دوېمې ښځې سره یوه لُور هم راغلې وه چې هغه ئې د اولنې عیسائي خاوند نه وه. د دې نه د ډاکټر صاحب صرف یو ځوے شوے وۀ چې نوم ئې جان وۀ.

ډاکټر خان صاحب د مېډیکل کولو نه پس برټش مېډیکل سروس کښې ملازمت شروع کړو او د وړومبي عالمي جنګ په دوران کښې ئې په فرانس کښې خپل فرائض ترسره کړل او چې کله هندوستان ته واپس شو نو انډین مېډیکل سروس ته لاړو چې ډېر وخت ئې ملازمت جاري ونۀ ساتلے شو او په ۱۹۲۱ء کښې ئې استعفٰي ورکړه. د ملازمت نه د مستعفي کېدلو وجه ئې دا وښودله چې د برټش آرمي یونټ د وزیرستان د قبائلو خلاف مهم له روان ؤ او دے ورسره هم لېږلے شو چې دۀ دا صحیح ونۀ ګڼله، د دې نه وروستو ډاکټر خان صاحب د پېښور په قصه خانۍ بازار کښې خپل پرائیوېټ پرېکټس شروع کړو.

۱۹۲۷ کښې چې د سرحد خلافت کمېټۍ کابل ته کوم طبي وفد استولو نو د هغې مشري د ډاکټر خان صاحب په برخه شوه خو دې وفد ته سرکار پاسپورټونه ورنۀ کړل او دغسې دوي د کابل نه پاتې کړې شول. هم د دغه زمانې نه ډاکټر خان صاحب عملي سیاست ته راووتلو او په خدائي خدمتګار تحریک کښې شامل شو. ۱۹۳۰ کښې د قصه خانۍ په خونړۍ واقعه کښې ډاکټر صاحب د زخمیانو د علاج دپاره ډېرې هلې ځلې وکړې او بیا ۱۹۳۲ کښې د سول نافرمانۍ تحریک کښې باچا خان ډاکټر خان صاحب او د دوي د خاندان نور ډېر خلق ګرفتار کړے شو او د سختو تکلیفونو سره مخ کړے شول. دا د ډاکټر خان صاحب وړومبے قېد ؤ. ۱۹۳٤ کښې د جېله راووتو خو د پښتونخوا او پنجاب صوبې نه وشړلے شو نو واردها ته لاړو. ۱۹۳۵ کښې د انډین نېشنل کانګرس له پلېټ فارم نه د مرکزي اسمبلۍ ممبر منتخب کړے شو او په پنجاب او پښتونخوا د دۀ د راتګ پابندي هم ختمه کړې شوه. ۱۹۳٦ کښې خدائي خدمتګار د صوبائي

اسمبلۍ اکثر سیټونه وګټل خو د دوي اکثر ممبران په جېلونو کښې وو.

باچا خان لیکي چې سرجارج کننګم د قاعدې قانون بر خلاف د خدائي خدمتګارو په ځائې سرصاحبزاده عبدالقیوم خان ته د وزارت جوړولو دعوت ورکړو او هغۀ حکومت جوړ کړو. دے په خپله علاقه کښې فېل شوے ؤ. عبدالعزیز خان ترې سیټ ګټلے ؤ، د هزارې نه د پېرنګیانو په مرسته کامیاب شوے ؤ.

خو د فرضي اتحاد او پېرنګیانو په مرسته جوړ کړے شوے دغه حکومت ډېر ونۀ چلېدو. په ۳ ستمبر ۱۹۳۶ کښې ډاکټر خان صاحب د هغۀ خلاف د عدم اعتماد تحریک وړاندې کړو چې کامیاب شو او دغه شان په اتفاق سره ډاکټر خان صاحب وزیر اعلي منتخب شو.

هغه د خاکسار نوجوانان، بهارت سبها او نورو سیاسي ډلو نه پابندي پورته کړه او سیاسي قېدیان ئې پرېښودل. په ۷ نومبر ۱۹۳۹ دې وزارت د جنګ خلاف قرارداد منظور کړو او مستعفي شو. د ستمبر ۱۹۴۲ پورې پښتونخوا کښې ګورنر راج نافذ ؤ او چې د سول نافرمانۍ د تحریک په شروع کېدو د کانګرس مشران ګرفتار کړے شو نو مسلم لیګ بیا خپل وزارت جوړ کړو چې د ۸ مارچ ۱۹۴۵ پورې برقرار ؤ. دوي پسې یو ځل بیا د ډاکټر خان صاحب په مشرۍ کښې د خدائي خدمتګار ممبرانو د کانګرس وزارت جوړ کړو چې باچا خان پرې رضا نۀ ؤ. د باچا خان موقف دا ؤ چې د حکومت سره پوره پوره اختیار نۀ وي او په خپلو کارونو او پالېسیو کښې با اختیاره نۀ وي نو د داسې حکومت نه حکومت نۀ کول ډېر ښۀ دي. د ۱۹۴۶ په انتخاباتو کښې یو ځل بیا خدائي خدمتګار تحریک اکثریت ترلاسه کړو او د ډاکټر خان صاحب په مشرۍ کښې وزرات جوړ کړے شو خو د پاکستان جوړېدو نه سمدستي پس ګورنر مسټر جناح د دې وزارت ماتولو غېر اخلاقي او غېر آئیني حکم ورکړو او د قیوم خان قیوم خاني قائمه شوه. ډاکټر خان صاحب نظر بند کړے شو، د بابړې خونړۍ پېښه وشوه. ۱۹۵۴ کښې ډاکټر صاحب د نظر بندۍ د قېده خلاص شو.

۱۹۵۵ کښې چې کله د ون یونټ ناوړه منصوبه عملي کېده نو د یوې منصوبې لاندې د وزارت اعلي دپاره ډاکټر خان صاحب غوره کړے شو، خان عبدالولي خان لیکي چې "د ون یونټ د خفیه دستاویزاتو د منصوبې متعلق چې کله دا فېصله وشوه چې پنجاب دې لا في الحال خاموشه، غلے او یو خوا ته پرېوځي نو د حکومتي ماڼو د سازشونو استاذانو دا فېصله وکړله چې تجویز خو دا دے چې اول سر کښې دې وزیراعلي د وړو صوبو نه واخستے



شي نو فېصله ئې په ډاکټر خان صاحب وکړه" (باچا خان او خدائي خدمتګاري ۳۴۱ مخ)

خان عبدالولي خان وړاندې ليکي چې "يو يونټ خو د وړو صوبو په خلاف يو جوړ سازش ؤ او د پنجاب او د مهاجرو د نوکرشاهۍ (فوجي او سول دواړو) د طرفه د ملک د ټولو صوبو په خلاف د هغوي د همه حقوقو د غصب کولو منصوبه وه نو د دې مشري ډاکټر خان صاحب په کومه نظريه قبوله کړه؟" (باچا خان او خدائي خدمتګاري ۳۴۲ مخ)



د ډاکټر خان صاحب شهادت له د پاکستان استبلېشمنټ او مېډيا ډېر ساده رنګ ورکړو او د هغۀ د قتل محرکات ئې ډېر عام غوندې وګڼل.

وائي چې د مئ په نهم تاريخ ۱۹۵۸ د جمعې په ورځ سحر د خپل زوي سعدالله خان (ډپټي سکرټري محکمه آبپاشي) په بنګله (۱۶ ربک مېن روډ لاهور) په برامده کښې ګرځېدو راګرځېدو يو سړے چې عطاء محمد نومېدو او د ميانوالي اوسېدونکے ؤ، د بنګلې احاطې ته رادننه شو، دغه سړے دوه کاله وړاندې بهاولپور کښې پټواري ؤ خو د ځنو وجوهاتو له کبله د نوکرۍ نه ويستلے شوے ؤ، دغه سړي د ډاکټر صاحب سره په څۀ خبره بحث وکړو، بيا واپس ګېټ پله روان شو او سمدستي ئې د هغه ځائے نه واپس رامنډه کړه او په ډاکټر صاحب ئې د چاړې ګوزارونه شروع کړل. ډاکټر صاحب په زخمي حالت کښې د هغۀ تعاقب وکړو خو په دغه دوران کښې د خواوشا خلق راجمع شوي وو چې پکښې د لاهور ايس ايس پي هم شامل ؤ، سړے په موقعه ګرفتار کړے شو، ډاکټر خان صاحب د ګېټ خوا ته بېهوشه شو، دے فوراً مېو هسپتال ته ورسولے شو خو د طبي امداد نه وړاندې هغۀ ساه ورکړې وه. وروستو خپل کلي اتمانزو کښې د خپل کور په انګڼ کښې خاورو ته وسپارلے شو.

خان عبدالولي خان د ډاکټر خان صاحب د شهادت وجه د هغۀ سياسي تېروتنې او ذمه وار ئې د پنجاب سول او فوځي بېوروکرېسي ګڼي.

## استفاده:


۱)- زما ژوند او جدوجهد - باچا خان (سافټ کاپي، باچا خان ټرسټ ۴۰۹ مخ.

۲)- هفت روزه "لېل و نهار" لاهور - اداريه جلد ۸ اتوار ۱۱ مئ ۱۹۵۸.

۳)- باچا خان او خدائي خدمتګاري دويم جلد - خان عبدالولي خان.

۴)- Celebrities of NWFP Vol. I & II edited by: Dr Parvez Khan Toru Dr. Fazal-ur- Rahim Marwat Pakistan study Center University of Peshawar NWFP

۵)- Doctor Khan Sahib by Pr. Fakhr-ul-Islam

۶)- د امجد شهزاد، مشتاق مجروح او احسان الله د پروفېسر جهانزېب نیاز سره "نیازمېنه" چارسده کښې ملاقات (فروري ۲۰۰۹).

باچا خان ریسرچ سنټر کښې ارباب همایون سره شوي یو پروګرام کښې پروفېسر نصیر الدین طالب دا خبره کړې وه او مونږ سره په ریکارډ موجوده ده.